پوهاند محمد بشیر دودیال

۲۰۲۱/۱۲/۱۱

# دافغانستان لپاره د پولی سیاست(پالیسی) اهمیت

## (لومړی برخه)

له بده مرغه دغو ورځو کې هیوادوالو ته دهیواد داقتصادی وضعیت له امله ډیرې اندیښنې پیدا شوي دي. دوی حق لري چې اندیښنه ولري، دا ځکه چې بشری ټولې فزیولوژیکی اړتیاوې په اقتصادی وضعیت او ثبات پورې تړلې دي. په دې کې خوراک، څښاک، روغتیا او ترټولو مهمه دا چې د وګړو فردی حیثیت او وقار هم راځي. په بیوزلی او فقر کې خدای ناخواسته راز راز منکرات (غلا، انسانوژنه، دروغ،رشوت، قاچاق، وسله ګرځول، اعتیاد...) واقع کیږی، بل مشکل دا دی چې فقر او بیوزلی د راز راز اجتماعی او سیاسی ستونزو لامل ګرځي. نن ورځ هیوادونه د زمکې یاقلمرو په وسعت، دیوځ په قوت، لښکر او ایدیالوژی حساب نه کوي، بلکې دا اقتصاد دی چې د یو هیواد او یوملت قوت، استقلالیت او نړیوال درېځ ثابتوي.
له نیکه مرغه افغانستان نور له جنګونو خلاص دی. تیر وخت زموږ تر ټولو لوی مشکل جنګ و. ټولو ویل چې جنګ ختم شی افغانستان بل مشکل نلری. دا حقیقت و، کله چې جنګ نه وی موږ هرڅه لرو: بشری نیرو، موسسات، زیربنا، منابع، ښه اقلیم او پانګه. د مدیریت مسئله یې موږ پورې اړه لري، که یې وغواړو دا ټول په ښه مدیریت سره ترکیب کړو، ډیر ژر غوړیدلی اقتصاد به مو وی، خو که ددغو منابعو، امکاناتواو ډیر ښه پوتانیسیل په لرلو سره سره، مُدبر او ملی مدیریت ونه لرو او پالیسی موجوده نه وی شاید، د سولی سره سره به بیاهم د جنګ د دوران په شان مشکلاتو سره مخ یاستو. نو د مدبرې اداري پالیسی څه ده؟
پالیسی، پلان او برنامه په هره برخه کې ضروری ده. خو داقتصاد په برخه کی دوه پالیسیګانی ډیرې مهمی دی: مالی پالیسی او پولی پالیسی .
دغو ورځو کې چې کوم مشکل لومړیتوب لری، هغه پولی پالیسی( Monetary Policy) ده چې طرح کوونکی، تطبیق کوونکی اوحامل یې دافغانستان بانک او نور اقتصادی او مالی وسیطونه دی.
د اقتصاد په علم کې پیسې (پولmoney) او دهغو په اړه د بېلا بېلو پرابلمونو څېړنه یوه په زړه پورې او پیچلې مسئله ده. ځکه پیسې د تبادلې په جریان کې د اجناسو او خدماتو دارزش د یو معیار په توګه عمل کوي چې د دې اهمیت په دې کې دی چې نه یوازې د تبادلې وسیله او د ارزش معیار دی، بلکې د ذخیرې وسیله، حسابي واحد او د قرضونو د ورکړې وسیله هم ده. د پیسو په هکله یو لوی پرابلم د ببو ټاکل او دبیو ثبات دی، تر څو چې په دې توګه یو مستحکم اقتصاد رامنځته شي. د باثباته اقتصاد لپاره باید پولي مؤثر سیاست تطبیق شي. کله چې یو هېواد مؤثر پولي سیاست تعقیبوي، هلته سرمایګذاران دی ته حاضریږي چې په تولېد کې سرمایګذاري وکړي، ځکه چې د دوی اعتماد حاصل وي. کله چې پولي موفق سیاست تطبیقیږي مؤلدین تشویقیږي، عرضه او تقاضا عادي جریان پیدا کوي. کله چې مؤفق پولي سیاست جریان ولري، نو دهېواد ملي پیسې په بهر کې لازم ارزش لري او بهرني تجارت کې تعادل ساتل کیږي، خو د دې برخلاف که چېرې یو هېواد کې ناانډولي، ګډوډي او انحطاط پیښ شي، له بده مرغه دا د پیسو په ارزش او د پیسو په دوران بده اغیزه کوي په نتیجه کې انفلاسیون، د پیسو د ارزش ټیټوالی او نور واقع کیږي چې دا په اقتصاد کې لوی پرابلم رامنځته کوي. په نتیجه کې په ملي تولیداتو کې کموالی راځي او بهرني تجارت کې کسر واقع کیږي، په پای کې اقتصاد د رکود خواته ځي. دلته لازمه ده پولي سیاست په علمي توګه ترکار لاندې ونیول شي ترڅو بېرته اقتصادي ثبات رامنځته شي. پولی پالیسی یا سیاست داسې تعریفوي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

Monetary policy یاپولي سیاست هغه وسیله ده چې په هغې سره مرکزی بانک له پولي مقدارونو او د پیسو دسیستم له کنترول څخه کار اخلي.
یا: پولی سیاست د یو هیواد د مرکزی بانک(Central Bank) د تد ابیرو هغې مجموعې ته وایی چې د پیسو حجم(Volume of Money) یا نغدی والي(Liquidity) کې تغییر(Changes) راولي اود اقتصادی وضعیت ثبات(Stabilization) راولي.
په پرمختیایي هېوادو کې څکه مالي او پولي پالیسیو ته اړتیا ده چې له بده دغه د وروسته پاتي هېوادو بالعموم او د افغانستان بالخاصه یو لوي پرابلم د دوی اقتصادي ناوړه حالت او کړکیچن وضعیت دی. په دغو هېوادو کې د پیسو د خرید توان ډیر ټیټ ، انفلاسیون پکي زیات، تجارت یې نامتعادل او دبیو عدم ثبات پکې موجود دی. دغه نواقص(ستونزې) د پولي سیاست په تطبیق سره حل کیدای شي. پولي سیاست هغه مؤثره وسیله ده چې دپیسو ارزش لوړوي، انفلاسیون رفع کوي، قیمتونه ثبات پیدا کوي، بانکونو کې پس اندازونه تشویق کېږي، ذخایر زیاتیږي سرمایګذاري صورت نیسي، د حکومت تمویلي قوت زیاتیږي، تادیات ښه صورت نیسي او اقتصاد کې تحُرک او مثبت بدلون راځي او دا د دې سبب کېږي چې ملي عاید زیاتوالی ومومي. د پولي سیاست د تطبیق لوی هدف د یو باثباته او وده موندوونکي اقتصادي حالت رامنځته کول دي چې دا اصلاً د مرکزي بانک، خو ورسره دمالي بازار او د هېواد د مالیې وزارت له طریقه پرمخ بیول کېږي. د پرمختیایي هېوادو دپولی سیاست د نه لرلو له امله ټول اقتصاد ویجاړیږی، خو د پالیسی په لرلو سره هم که هغه ښه تطبیق نشی، له اقتصادي ستونزو سره مخ دي چې هغه دادي:

A. په بهرني تجارت کې کسر؛ یعني د دوی د صادراتو اندازه د وارداتو په مقایسه کمه ده،
B. د ملي مجموعي تولېد(GNP) کمښت؛ په نتیجه کې ملي عاید کم وي،
C. بېکاري موجوده وي،
D. په تولېدي سکتورونو کې د مؤلدي سرمایې نشتوالی،
E. د پس اندازونو او ذخیرو نشتوالی،
F. پوروړتیا(قرضداري)،
G. اقتصادی، سیاسی او اجتماعی عدم ثبات او په خپل ځان عدم اتکا ،
H. انفلاسیون او داسي نور مشکلات. په تیره بیا کله چې جامعه له بحرانونو، داخلی کشمکشونو، طبیعي پیښو اوسیلابونو، جنګونو، اعتصابونو، شدیدو سیاسی تضادونو، وچکالي، بی قانونی، دمشروعیت بحران او داسي نورو ناوړه پیښو سره مخامخ شي، نو دغه اقتصادي ستونزې نورې هم زیاتیږي. د دې لپاره لازم ده چې دوی یو عاجل پولي سیاست لاس لاندې ونیسي. پولي سیاست د څو لارو پرمخ بیول کیدای شي.

a. په مارکیټ کې د بیو د ثبات لپاره هلي ځلي،
b. د مجدد تنزیل سیاست تطبیق کول،
c. د بانکونو په ذخایرو کې بدلون راوستل،
d. قوانینو ته درناوی،
e. په جامعه کې د عمومي مورال او روحي انګیزو له لارې د ثبات د ټینګولو لپاره هلي ځلي.
f. دبانک انقباضی او انبساطی وسایل او ورسره د آزاد بازار فعالیت او مورالیتی.

خو تر ټولو د مخه ضرور ده حکومتونه یو مؤثر پولي سیاست داسي تطبیق کړي چې حالت کنترول لاندې راشي او ملي پیسي خپل ارزش له لاسه ورنکړي او بیې یا قیمتونه دثبات حالت کې وي. پرمختیایي هېوادونه باید دغه ستونزې هم حل کړي:

a. د پولي مؤسساتو وروسته پاتېوالی اصلاح کړی، مثلاً فعال بانکی سیستم ولری. بانکونه باید خپل وظایف اجرا کړی. دغه هېوادونه باید د مارکیټ پوره شرایط موجود کړي. که له یوې خوا د پیسو دوران سرعت ونه لري له بلې خوا پرته له ښهري سیمو په اطرافي سیمو کې اوس هم یا جنس په جنس تبادله کېږي یا هم خلک د بانکونو او مالي شعباتو سره ډیره رابطه ونه ساتي په دې توګه بانکونه او پولي مؤسسات خپل سیاست ټول هېواد کې سل په سلو کې نشي تطبیقولای. د دې معنا داده چې د دوی اقتصاد باید پولی شی. د بازارونو میکانیزم چې مهمه وسیله ده، په ټولو سیمو کې یو شان حاکمیت نه لري. دغو هېوادو کې ښارونه لږ څه پرمختللي او خلک د مالي مؤسساتو سره لکه بانکي شعبات، بیمو، د پس انداز او نورو سره رابطه او شناخت لري، مګر په کلیوالي سیمو کې د اړول ارتباطات بالکل نشته، نو ځکه د وروسته پاتي هېواد د پولي مؤسساتو اغیزه ډیره ناچیزه ده چې دا د دوي لوی مشکل دی.

b. د معاملاتي بانکونو ضعیف نقش

له دې کبله چې پولي سیاست مرکزي بانک، د نورو معاملاتي بانکونو له لارې لکه د زراعتي انکشاف بانک ،رهنی-تعمیراتی بانک او نورو له طریقه تطبیقوي؛ له بده مرغه پرمختیایي او وروسته پاتي هېوادو کې مرکزي بانک چې د پیسو د نشر وظیفه هم لري نشي کولای خپل سیاست د تجارتي اومعاملاتی وسیطونو له لارې عملي کړي، ځکه اصلا دغه هېواد کې د تجارتي، زراعتي، رهني او نورو بانکونو نقش ډیر ضعیف دی. مثلا زمونږ هېواد کې د افغانستان بانک مرکزي بانک دی، په دې سره پښتني تجارتي بانک، رهنی او تعمیراتي بانک، د کرنی د پرمختیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له ړالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

بانک، د صنایعو د انکشاف بانک او نور معاملاتي بانکونه دي، مګر د کرنی د پرمختیا بانک ، پشتني بانک او نور ډیر لږ مشترکین لری او سرمایه يې هم ناچیزه ده او مراجعین هم نلري، نو نشي کولای په هغو پولي سیاست د ټولنې سرتاسر کې تطبيق او عملی شی. خصوصی بانکونه د کمیشن مقابل کې ډیر محدود خدمات ترسره کوی چې اقتصاد کې يې نقش او رول ناچیزه دی.

c. د اقتصادی پروژو نشتوالی یا په هغو کې ستونزې

په يو اقتصاد کې چې بيلابيلې پروژې( انکشافی لويی پروژې، د اوږدې مودی، دلنډې مودی، زودثمره، دخصوصی سکټور، عامه پروژې،...) نه وي، هغه اقتصاد داسی دی لکه ویاله چې اوبه ونلری. دا چې اقتصادي پروژې خصوصا طویل المدت او انکشافي پروژې په اقتصاد ډیر مثبت اثر لري، له بده مرغه په وروسته پاتي هېوادو کې داسې پرژو ته لازمه سرمایه وجود نه لري. که چیري د دي پروژو لپاره کومه سرمایه او کریدیت پيدا هم شي هغه يا په زود ثمره کوچنيو پروژو مصرف کيږي او يا هم کوشش کيږي هغه سرمايه له هېواده بهر نورو ملکو کې ولګوي. زموږ هېواد کې هم همدا مثال شته. زموږ زیاتره سوداګر او سرمایه داروپه نورو ملکو کې خپله پانګه په کار اچولې چې دا د پولي سیاست د تطبيق په برخه کې يو غټ مشکل دی.

d. په حکومتونو بې اعتمادي

په وروسته پاتي هېوادو کې د اقتصادي او اجتماعي ګډوډيو سره یوځای سیاسي ثبات هم نه وي. حکومتونه يو بل پسې بدليږي؛ د دې بدلون په نتيجه کې پالیسي او پلانونه هم بدل شي، په نتيجه کې پروژې هم نيمګړي پاتي شي، نو کله چې سیاسي ثبات او استقرار نه وي طبعاً د پولي سیاست استقرار هم ناممکن کيږي. زموږ هیواد هم بی ثباتی سره مخ دی. ځيني خلک په خپلو پيسو د هغو په چلند هم بې اعتباره دی ځکه دایماً نوسانات موجود دی چې د پيسو دایمي نوسانات په خپله پولي سیاست ناکامه کوي. دا کار په راتلونکي کې د پيسو دپيريدلو توان ته زيات تاوان اړوي، نو کله چې خلک په خپلوداخلی پيسو، په بانکي سیستم او حکومت بې اعتماده وي، کوښښ کوي يا ډالر وپيری يا سره زر، خو د توليد برخه کی سرمايګذاری او پس انداز نه کوي.

e. اداری فساد او ناکاره حکومتولی: بالعموم پرمختیایی او وروسته پاتي دولتونه ضعيف او فاسد حکومتونه لری، چې لازم خدمات نه ارائه کوی او اصلاً له علمی اداري او سالم مديريت سره نااشنا دی. ټيټ مهارتونه، دعلمی ځيرنو نشتوالی او د اجتماعی او بشری سرمايې ضعف يې بل مشکل دی.

f.ضعيف صنعت

وروسته پاتي هېواد کې صنعت چې اقتصادي انکشاف کې مهم نقش لري، ډیر دی په نيجه کې صنايع ملی تولېد کې اجناس او خدمات نه شي علاوه کولای، نو ځکه ملي عايد کم وي کله چې ملي عايد کم وي، نو طبعا د پولي سیاست تطبيق نه شي کيدای او چې ښه پولی سیاست نه وی صنایع وده نه کوی. دا متحولين يودبل دليل او مدلول هم دي.

موږ په يوشمير ولاياتو لکه کابل، هرات، کندهار، مزار،بغلان او جلال اباد کې صنعتی پارکونه اوځينی د حساب وړ صنايع لکه لاسی صنعت، د بعضی سبو،ميوو اوبوټو پروسس، چران روزنه، د کبانو اوشاتوتوليد، مرمراو ماربل، سمنټ او داسې نور لرل، چې هغه هم يا د بی ثباتی او نامنی او د بريښنا دستونزو يا د خامو موادو د قيمته کيدو او د تجربه لرونکو او ماهرو کارکوونکو د تيښتي له امله ودريدل.

g. د حکومتي پلانونو او اقتصادي وضعيت نامعلوموالی:

طبعاً هره اقتصادي پاليسي، انکشافي پروژې، سرمايه ګذاری، د مارکيټ حالت او نور ټول د دولتی واضحه پلانونو په رڼا کې پرمخ ځي چې په پرمختللو هېوادو کې په پرله پسې توګه منظم اقتصادي پلانونو طرح او يو په بل پسې تطبيق کيږي. پرمختللو هېوادو کې د اقتصادي پلانونو منځ کې قطعا وقفه او ځنډ نه پيښيږي، نو ځکه هره برنامه موفقه وي. له هغې جملې پولي سیاست هم په دوامداره توګه تطبيق کيږي. حال دا چې وروسته پاتي هېوادو کې پلانونه يا هم موجود نه وي يا مبهم وي چې خلک او حتی خپله ادرات او محلی ارګانونه يې نه شي درک کولای او څوک د پلان په اهميت نه پوهيږي، يا هم يو حکومت چې کوم پلان جوړ کړي، کله چې دا بل ورباندي راشي، تير پلانونه ټول نيمګړی شی، نو دا د پولي سیاست لپاره لوی مانع او مشکل دی. افغانستان کله د(فصل ناتمام امان الله خان)، کله د( فصل ناتمام سردار محمد داودخان) او اوس به لا د(فصل ناتمام غنی) ناريږ وهی، دی حالت کی ثبات او دوام نشی راتلای.

h. د اجتماعي سازمانونو ضعيفوالی

پرمختللو هېوادو کې د بيمې سازمانونه، کارګري اتحاديې، کوپراتيفونه او نور اجتماعي سازمانونه ډير فعال دی دوی له يوې خوا له خلکو سره مرسته کوي او له بلې خوا د حکومت دپلانونو او سیاستونو تطبيق کې مرسته کوي. بالمقابل د توليدکوونکو ځواکونو له حقوقو هم دفاع کوي. وروسته پاتي هېوادو کې دا ډول سازمانونه نشته، نو ځکه د پولي سیاست تطبيق نيمګړی پاتي کيږي.

i. مالي ضعف



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په وروسته پاتي هېوادو کې پیسي قوي پشتوانه نه لري، اسعاري بودیجه ثابته نه وي، حکومت تل پوروړی وي. آن دا چي د تادیاتو بېلانس معلوم نه وي، نو ځکه حکومت په هېڅ صورت د داسي ضعف په صورت کې پولي پالیسي په داخل کې نشي تطبیقولای. ځکه دوی د بهرني تکتاني، د بین المللی مارکیټ او قرضه ورکوونکو فشار لاندې وي نو کله چي د هغو شرایط پوره کول غواړي په داخل کې پولي پالیسي نه شي تطبیقولای، نو د دوې پیسي د نورو اسعارو مقابل کې ټیټ ارزش کې ساتل کیږي.

j. د مارکیټ له وضعیت څخه د مؤلدینو بې خبري

وروسته پاتي هېوادو کې اکثر خلک په کرنه بوخت دي. د کرني مؤلدین ټول بیسواده له مارکیټ څخه بې خبره او له قېمتونو بې اطلاع وي. تکنالوژی یې وروسته پاتي او کوپراتیفونه نلری، دوی خپل تولېد د تقاضا سره نشي عیارولای. دوی د مارکیټ چارو ته کمه علاقه ښکاره کوي، نو ځکه پولي سیاست نشي تطبیق کیدای ځکه د بازار وضعیت او له هغه څخه معلومات لرل د پولي سیاست لپاره مهمه وسیله ده. دې هېوادو کې د بازار سیاست ډېر ناچیزه او ناممکن دی.

**په وروسته پاتي هېوادو او له هغې جملې افغانستان کې د پولي سیاست د تطبیق د ښه کېدو امکانات:**

هغه وروسته پاتي هېوادونه چي اقتصادي کړکیچن او ناوړه حالت لري دوی باید داسي تحرک رامنځته کړي چي د پولي مناسب سیاست غوره کول او تطبیق کول ورته ممکن شي . د دې لپاره لازمه ده چي:

A. باید یوه فعاله او مؤثره اداره رامنځته کړي چي د قاطعو او مثبتو اجراتو صلاحیت او واک ولری او ترټولو مهمه داده چي منظم او اقتصادي رشد ته پام وکړي .

B. دغه هېوادونه باید اقتصادي پلانونه طرح او په عملي توګه یې موفقانه د تطبیق هڅې وکړي.

C. باید اقتصادي اداری لکه بانکونه د مالي وزارت او نورو کې ژور اصلاحات راولي

D. باید معاملاتی بانکونه فعال شي او مؤلدین، صنعتکاران، تجاران، بزګران، ملي سرمایه داران ورته جلت او دهغوی پانګه هغو کې پس انداز او د ملي اقتصاد دوران کې ولویږي. په دې توګه باید راکده پانګه په دوران کې راولي او سرمایګذاری زیاتوالی ومومي، په دې ډول د GNP زیاتوالی دفي نفر عاید( PCI) د زیاتوالي سبب کېږي دا په خپله د تولېد د زیاتوالي، د استخدام د ښه کېدو، د صادراتو د زیاتوالي او د مارکیټ د حالت د ښه کېدو باعث کېږي. کله چي د مارکیټ حالت ښه شو، ټول اقتصاد پولی کیږی، نو پولي سیاست خودبخوده تطبیق کېږي

E. باید د خلکو د پوهي سطحه اوچته شي،

F. باید هغه روحی عوامل له منځه یوړل شی چي د انفلاسیون لامل ګرځي،

G. د تور بازار، قاچاق، جعلی پیسو، احتکار، ډمپنګ، له مالیاتو د تېښتي او داسي نورو غیر قانونی او جرمی فعالیتونو مخه ونیول شی،

H. له ملی او داخلی پیسو سره د نورو پیسو د چلند مخه ونیول شی،

I. داخلی تولید هڅول او د داخلی او خارجی پانګی جذب ته توجه،صادرات تشویق او خصوصی سکتور ښه حمایه او رهبری شی،

J. د لکسو او غیر ضروری اجناسو واردول بندشی،

K. باید انکشافي پروژي طرح او تطبیق شي. ( بحث دوام لري).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ